مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲/۱۰/۱۱

# ورک شوی څوک



مینه څه ده ؟
په تږې څمکه
د باران
یوه لمده
او نازکه خوشبويي ده
رڼا ده
چې د سترګو له کړکې
د زړه په سرې غالې
بې اجازې پریوزي
مینه څه ده
یوه چوپتیا ده
چې په سترګو ژباړل کیږي
یو درد دی
چې انسان یې په خپله خوښه زغمي
مینه!
یو سفر دی
چې منزل نه لري
او مینه!
هغه حقیقت دی
چې دوه انسانان
د یو بل له لارې
خپل هغه ورک شوی ځان پیدا کوي
چې کلونه وړاندې
وي د ژوند په شور ماشور کې
ترې ورک شوی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ